# د آسټرالیا د حکومت Code of Behaviour او Bridging Visas



که چیرې تاسو Bridging Visa E (لنډ مهاله ویزه) لرئ او یا یې د ترلاسه کولو په حال کې یاست، د آسټرالیا د حکومت Code of Behaviour (د سلوکو مقرره) تاسو لپاره اهمیت لري.

Code of Behaviour هغه ژمنه ده چې پربنسټ به يې تاسو د آسټرالیا د قوانینو او مقرراتو اطاعت کوئ. ددې حقایقو دا پاڼه د Code of Behaviour په چوکاټ کې ستاسو قانوني حقونه او مسوولیتونه څانګړي کوي.

د سرحدونو د ساتنې او کډوالۍ وزارت (Department of Immigration and Border Protection) ته اوس د کورنیو چارو وزارت وايي (Department of Home Affairs).

Victoria Legal Aid

# حقوقي معلومات – Code of Behaviour

## Code of Behaviour څه دی؟

Code of Behaviour یوه ژمنه ده چې تاسو به د آسټرالیا د قوانینو او مقرراتو اطاعت کوئ. دا یوه فورمه ده چې تاسو به یې لاسلیکوئ. د Bridging Visa E د ترلاسه کولو یا نوي کولو لپاره باید تاسو Code of Behaviour لاسلیک کړئ. دا کار د Code of Behaviour اصلي مفهوم څرګندوي.




**که چیرې تاسو نه پوهیږئ چې کومه ویزه لرئ، نو له Department of Immigration and Border Protection (د کډوالۍ او پولو د ساتنې د چارو ادارې) سره وګورئ یا له خپل کیس ورکر څخه معلومات ترلاسه کړئ.*

## که زه د آسټرالیا د قوانینو او مقرراتو په اړه زیات معلومات ونلرم، نو څه وکړم؟

په آسټرالیا کې ګڼ شمیر قوانین او مقررات موجود دي. په آسټرالیا کې میشت ټول خلک باید ددې قوانینو او مقرراتو اطاعت وکړي. ټول خلک د قانون په چوکاټ کې ځانګړي حقونه لري.

دا تاسو پورې اړه لري چې وپوهیږئ له کومو قوانینو باید اطاعت وکړئ. کېدی شي دا خبره کول ښه نه معلومیږي، خو دا وینا بهانه نه شي کیدای چې 'زه له قانون څخه بې خبر وم'. تاسو کولی شئ د اړتیا په صورت کې، د حقایقو د پاڼې په پای کې درج شویو د خدمتونو وړاندې کوونکو موسسو څخه، حقوقي معلومات ترلاسه کړئ.

## که له قانون څخه سرغړونه وکړم څه به وشي؟

دا به په دې معنی وي چې تاسو له Code of Behaviour څخه سرغړونه کړې او Department of Immigration ښایي ستاسو ویزه رد کړي.

له لاندې قوانینو څخه د سرغړونې په صورت کې ښایي هغوی ستاسو ویزه رد کړي:

- که چیرې تاسو په خطرناک ډول موټر وچلوئ او د موټر خوندیتوب ته پاملرنه ونکړئ
- که چیرې تاسو څوک ژوبل کړئ او یا له هغوی سره له خشونت کار واخلئ.

Department of Immigration همداراز ښایي په لاندې حالاتو کې ستاسو ویزه رد کړي:

- که چیرې تاسو په داسې کارونو لاس پورې کړئ چې د ټولنې د اوسیدونکو د ناخوندیتوب لامل شي
- که چیرې تاسو ددې ادارې له حکم څخه سرغړونه وکړئ، د بیلګې په توګه که چیرې په یوه مهم ملاقات کې له ګډون کولو انکار وکړئ.

## که چیرې زما ویزه لغوه شي، څه به وشي؟

مخکې له دې چې ویزه لغوه شي، اړونده اداره ښایي تاسو ته اخطاریه ولیږي یا د ویزې د صدور ځینې شرایط بدل کړي.

**کله چې لنډ مهاله ویزه لغوه شي، نو کیدای شي تاسو د کډوالۍ د چارو توقیف ځای ته ولیږل شئ.**

## آیا کولی شم د Code of Behaviour په اړه لازیات معلومات ترلاسه کړم؟

که چیرې ډاډه نه یاست چې څه باید وکړئ، له خپل کیس ورکر څخه مرسته وغواړئ. که چیرې تاسو د Code of Behaviour په اړه پوښتنې لرئ، له خپل کیس ورکر څخه د لازیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو د ځای په اړه پوښتنه وکړئ او یاهم د خدمتونو له لاندې عرضه کوونکو موسسو سره اړیکه ونیسئ.

## آیا قانونپوه یا وکیل کولی شي ماسره مرسته وکړي؟

تاسو کولی شئ په لاندې حالاتو کې وړیا مرسته ترلاسه کړئ:

- که چیرې تاسو له ستونزې سره مخ یاست، یا فکر کوئ له قانون سره ستونزه لرئ
- که چیرې ستاسو د ویزې د ختمېدو نیټه نږدې وي او پخوا له ستونزې سره مخ شوي یاست
- که چیرې فکر کوئ چې اړونده اداره ښایي ستاسو ویزه لغوه کړي
- که چیرې د 'ویزې د لغوه کیدو خبرتیا مو ترلاسه کړې وي'.

د حقوقي خدمتونو موسسې کولی شي تاسو ته د جرایمو د قانون او نورو حقوقي ستونزو په اړه مشوره درکړي او د کډوالۍ د قانون د سلامشورو د ځای په اړه تاسو ته معلومات درکړي.

**انتظار مه کوئ، دا ډیره مهمه ده چې حقوقي مشورې ژر تر ژره ترلاسه کړئ.**

---

## د وړیا حقوقي معلوماتو او سلامشورې د ترلاسه کولو لپاره، لاندې پتې سره اړیکه ونیسئ:

**Victoria Legal Aid**
**1300 792 387**
**www.legalaid.vic.gov.au**

**Refugee and Immigration Legal Centre**
**(03) 9413 0100**
**www.rilc.org.au**

**Asylum Seeker Resource Centre**
**(03) 9274 9827**
**www.asrc.org.au**

TIS

**ژباړونکي او ترجمانان**

په 13 14 50 شمیره له Translating and Interpreting Service (TIS)) سره اړیکه ونیسئ او له ژباړونکي څخه وغواړئ چې ستاسو لپاره د حقوقي خدمتونو موسسې شمیرې ته ټیلفون وکړي. د حقوقي خدمتونو موسسې سره د خپلې ویزې په اړه خبرې وکړئ ترڅو تاسو ته صحیح معلومات درکړي. هغوی ته ووایئ چې ستاسو غوښتنه بیړني ځواب ته اړتیا لري.

May 2018